# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې لومړۍ | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۲مه | ۴۸۳یمه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### افغان سویس د لوړو زده کړو طبي موسسه

د افغان سویس د لوړو زده کړو په دغه موسسه کې د تدریس چارې د ۱۰۸ استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي، چې له ډلې یې ۱٦ د ماسترۍ او پاتې نور یې د دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري.



کرنې ریاست:

### په هلمند کې د سویابین حاصلات ۱۵ متریک ټنو ته رسېدلي دي



د هلمند د کرنې ریاست چارواکو ویلي چې یاد ریاست او د تغذیې او زده کړې نړیوالې موسسې «NEI» په همکارۍ، د دغه ولایت د مرکز لښکرګاه، ناوې، نادعلي او نهرسراج ولسوالۍ پر ځینو بزګرانو د سویابینو اصلاح شوي تخمونه وېشلي وو او د یادو سیمو په شاوخوا ۳۵۰ جریبه ځمکه کې سویابین کرل شوي وو چې دا مهال یې د حاصلاتو راټولولو لړۍ پای ته رسېدلې، چې له دغو کروندو څخه ۱۵ متریک ټنه سویابین راټول شوي دي.

دوی دغه راز ویلي چې تر دې وړاندې هم د هلمند د کرنې ریاست له خوا په دغه ولایت کې په ۵۵۰ جریبه ځمکه کې سویابین کرل شوي وو، چې بزګرو ورڅخه د قناعت وړ حاصلات تر لاسه کړي دي.

د یادونې ده چې سویابین بشپړ پروټیني او مغذي مواد لري او د کورنیو په روغتیا په ځانګړي ډول د ماشومانو د خوارځواکۍ په مخنیوي کې رغنده رول لري.

# خونړۍ جګړه او د سولې هڅې؛

## دې هېل: د امریکایانو حضور په افغانستان کې د جګړې د دوام ستر لامل دی



۵

### د پایلو اعلان او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دنده

۲ مخ

### د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

۲ مخ

### حضورجنگجویان خارجی در افغانستان

۳ مخ

### سرچینې: د متحده ایالتونو تازه وړاندیزونو د سولې د توافق لاسلیک ځنډولی دی

په دوحه کې د طالبانو او متحده ایالتونو تر منځ د سولې مذاکراتو تر بیا پیلېدو مخکې، وسله وال طالبان پر هغو وړاندیزونو له خپلو مشرانو سره پر سلا مشورو بوخت دي، چې د متحده ایالتونو له لوري شوي دي.

د سولې له روانو مذاکراتو باخبره کسان او طالبانو ته نږدې سرچینې وايي، د سولې هوکړه به پخوا لاسلیک شوې وای، خو د امریکایانو له لوري د اوربند او له افغان حکومت سره د خبرو تازه وړاندیزونو د هوکړې لاسلیک ځنډولی دی.

پخوانی طالب چارواکی جلال الدین شینواری وايي: «هوکړه لیک به پخوا امضا شوی وی، خو د اوربند او له حکومت سره د خبرو په اړوند د امریکایانو دې نوي وړاندیز د هوکړه لیک لاسلیک کېدل لږ ځنډني کړل».

سیاسي احزاب د طالبانو او متحده ایالتونو تر منځ د سولې مذاکرات نهایي شوي ګڼي او وايي چې متحده ایالتونو تر توافق وروسته، د اوربند او له حکومت سره د جنګ کمولو غوښتنه کړې ده.

په ورته مهال سیاسي جریانونه وايي، د طالبانو او متحده ایالتونو تر منځ د سولې د هوکړې په لسمه ورځ بین الافغاني مذاکرات پیلېږي.

دوی وايي، له ارګ پرته نور ټول اړخونه د مذاکراتي پلاوي تعین او مذاکراتو ته چمتو دي.

د طالبانو او متحده ایالتونو تر منځ د سولې په مذاکراتو کې له پرمختګونو څخه په داسې حال کې خبر ورکول کېږي، چې امریکایي چارواکي وايي، ډېر ژر به په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر راکم کړي.

### تر هغې په افغانستان کې پاتې کېږو چې د دغه هېواد د امنیت په تړاو ډاډ تر لاسه کړو



۵ مخ

### کانگرس امریکا ۱۵ میلیون دالر هزینهٔ گفت‌وگوهای صلح را تائید، اما طالبان رد کرده است



رسانهٔ امریکایی «رول کال داد کام» گزارش داده‌است که کانگرس ایالات متحدهٔ امریکا پانزده میلیون دالر هزینهٔ گفت‌وگوهای صلح با طالبان را تائید کرده‌است.

بربنیاد این گزارش، کانگرس با تائید لایحهٔ «قانون مجوز دفاع ملی» به وزارت دفاع امریکا (پنتاگون) اجازه می‌دهد که تا ۱۵ میلیون دالر را روی گفت‌وگوهای صلح افغانستان هزینه کند.

اما، پنتاگون گفته‌است که احتمال دارد بخشی از این پول به‌گونهٔ غیرمستقیم به طالبان کمک کند.

این در حالی است که بر بنیاد قانون فعلی ایالات متحده، این کشور نمی‌تواند به گروه‌هایی که در فهرست شبکه‌های تروریستی بوده‌اند، کمک کند.

اما، در گزارشی که همرا با این لایحه است، گفته شده‌است که مصارف گروه‌های تروریستی مثلاً هزینهٔ سفر به‌گونهٔ مستقیم پرداخت نخواهد شد.

در همین حال، سهیل شاهین سخن‌گوی دفتر طالبان در قطر، در تویترش این گزارش را رد کرده و گفته‌است که امریکا تنها مصارف تیم مذاکره کنندهٔ خود را پرداخته است.

قابل یادآوری‌ست که نزدیک به دو هفته پیش گفتگوهای به تعویق افتاده امریکا و هیئت طالبان در باره پروسه صلح افغانستان دوباره آغاز شده است. نماینده های هر دو طرف گفته است که پیشرفت های چشمگیر در این پروسه صورت گرفته است، اما در این باره جزیات بیشتر نداده.


Shigal English Academy

شیگل انگلیش اکاډمي

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## درېـــځ

# د پايلو اعلان او د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون دنده

ټاکنـو کمېسـيون وايـي چـې نـن يکشـنبه به د ولسـمشريزو ټاکنـو لومړنۍ پايلـې اعلانوي. که څـه هـم د ټاکنو کمېسـيون پر ژمنو باور نشـته، ځکـه چـې بيـا بيـا يـې د پايلـو اعـلان ځنډولی دی، خـو کـه د ټاکنـو پايلـې اعلانېږي، نـو ټاکنيـزه لانجـه ورسره حـل کېږي او کـه به دوام کـوي؟ دا جـدي او اساسـي پوښـتنه ده چـې ځـواب يـې د خلکـو پـر ژونـد او برخليـک اغېـز کـوي.

داسـې ښـکاري چـې د دغو پايلو لـه اعلان سره ټاکنيـزه لانجـه يـوه نـوي پړاو تـه داخلېـږي. که څـه هـم يـو لوری بـه دغه اعـلان تـه د پرمختګ او د سـتونزې د حـل پـه سـترګه ګـوري، خـو لـه دې املـه چـې نـور کانديـدان اعـتراض لـري او پايلـې نـه منـي، نـو لانجـه دوام کـوي. اوس بـه لـه يـوه اړخـه د ټاکنـو پـر کمېسـيون نيوکې وي، چـې ولـې يـې قوانيـن او طرزالعملونـه نـه دي پلـي کـړي. لـه بلـه اړخـه اوس بـه تمرکـز د ټاکنيـزو شـکايتونو پـر کمېسـيون وي او هڅـه بـه کېـږي چـې ښـکېل اړخونـه دلتـه خپلـې غوښـتنې عملـي کـړي. د قوانينو پر اسـاس هم د لومړنيـو پايلـو لـه اعـلان وروسـته بـه ټاکنيـز ټيمونـه خپـل شـکايتونه د ټاکنيـزو شـکايتونو کمېسـيون تـه ور وړي او لـه هغوی بـه د عدالت تمه لري. د ټاکنيزو شـکايتونو کمېسـيون به له يـوه اړخـه د عدالـت د پلـي کولو هڅـه کوي، له بلـه اړخه به تر ژور سـياسي فشـار لانـدې وي او دا فشـار بـه هېرولـی هـم نـه شي. له بـده مرغه د ټاکنـو کمېسـيون لانجـه دومـره زياتـه کـړې چـې د ټاکنيزو شـکايتونو کمېسـيون ته يې کار سـتونزمن کـړی دی.

د ټاکنـو د لومړنيو پايلو له اعلان وروسـته، اوس پـکار ده چـې ښـکېل اړخونه خپل شـکايتونه د ټاکنيزو شـکايتونو په کمېسيون کې درج کړي. دوی بايـد خپـل ټـول اسـناد او شـواهد دغـه کمېسـيون تـه وسـپاري. د ټاکنيـزو شـکايتونو کمېسـيون هـم بايـد پـه پـوره ناپېيلـوت سره په عادلانـه ډول دغـه شـکايتونه وڅېړي. د ټاکنـو پـر کمېسـيون سـختې نيوکـې دي. لـه شـک پرتـه چـې دغه کمېسـيون خپـل ناپېيلتـوب ونه شـو سـاتلی. د کمېسـيون ډېـری غـړي د يـوه کانديـد پلويـان پاتې شـول او د ټاکنـو قانون او طـرز العملونـه يـې نقض کـړل. اوس يـوازې نور کانديـدان نـه، بلکې خلک هـم درک کوي چې د کمېسـيون پرېکـړې د يـوه کانديـد په خوښـه او ګټـه وه. د ټاکنيـزو شـکايتونو کمېسـيون بايـد د ټاکنـو کمېسـيون په شـان نـه وي. دوی پـر خپـل عادلانـه، بـې پـرې او قانـوني دريـځ او کړنـو سره کولـی شي چـې نـه يـوازې عدالـت تاميـن کـړي، بلکـې ټاکنيـز بحـران حـل کړي.

کـه د دوی کار سـم، روڼ او قانـوني وي، نـو ښـايي ځينـې کانديـان قانـع شي او کـه قانـع هـم نـه شي، خـو چـې خلـک ووينـي د ټاکنيزو شـکايتونو کمېسـيون سـم او قانـوني کار کوي، نـو بيا بـه يې خلک ملاتـړ کـوي او کانديدان به سـتونزې نه شي جوړولی. له همـدې امله اوس د ټاکنيـزو شـکايتونو کمېسـيون کار برخليـک ټاکونکـی دی، دوی بـه يـا سـتونزه زياتـوي او يا بـه هم داسـې ګامونه اخلي چې ټاکنيـز بحران حـل کړي. تمه ده چې کمېسـيون بـه په هېواد کـې د سـتونزو د ډېرېـدو پـر ځـای د سـتونزو له حـل سره مرسـته وکـړي.

# د نړيوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړيتوب حقوقي ارزونه

ليکنه: اکرام الدين کامل

شپږمه برخه:

**د غير تعرفوي خنډونو ختمول**

د ازاد بازار پر وړاندې خنډونه يوازې د تعرفو په وضع کولو نه ايجادېږي، بلکې ډېر وخت غير تعرفوي خنډونهNon-Tariff Barriers تر تعرفوي خنډونو د واردتو لپاره زياتې ستونزې جوړوي. تر اوسه د غير تعرفوي خنډونو ځانګړې تعريف نشته؛ خو په پرنسيپ کې په دې کې ټول هغه تدابير شامل دي چې تعرفوي نه وي او په دې موخه استعمالېږي څو داخلي صنايع د وارداتو په مقابل کې خوندي کړي، لکه د وارداتو لپاره سهم وضع کول، په سوداګريزو مقررو کې عدم شفافيت، د سوداګريزو مقررو يو اړخيز يا استبدادي تطبيق او داسې نور. تر ټولو مشهور غير تعرفوي خنډ مقداري يا کميتي محدوديت يا Quantitative Restrictions دی، چې له مخې يې يو هېواد ته پر صادراتو د مقدار يا کميت له مخې محدوديت وضع کېږي او په عمومي توګه د ګاټ د ۱۱مې مادې له مخې منع دی؛ خو Tariff-Rate Quotas بيا په ځينو حالاتو کې جواز لري. د دې مانا دا ده چې يو هېواد تر يوې اندازې پر وارداتو يو ډول تعرفه وضع کړي او که واردات تر هغه زيات شول، نو تعرفه هم ورسره زياتېږي. له مقداري يا کميتي محدوديت سره يې توپير دا دی چې مقداري محدوديت د وارداتو کميت ته حد ټاکي؛ خو Tariff-Rate Quotas بيا د وارداتو حجم ته په کتو هغسې دوه ډوله تعرفه ټاکي (پر کمو وارداتو لږه يا ترجيحي تعرفه او پر زياتو بيا غير ترجيحي او زياته تعرفه) او پر وارداتو کوم مقداري محدوديت نه وضع کوي. البته له ۱۳مې مادې سره سم د کميت محدوديت او Tariff-Rate Quotas بايد له تبعيض پرته اداره شي. ۱۱مه ماده او همدا راز د تبعيض دواړه ډولونه de jure په قانون کې او de facto په واقعيت کې منع کوي. د سازمان د ډېرى هوکړه ليکونو مادې د غير تعرفوي خنډونو د ختمولو يا کمولو په اړه صراحت کوي. په هغو مواردو کې چې غير تعرفوي تدابير د مشروع هدف لپاره وي لکه د خوراک، نباتاتو او حيواناتو د مصوونيت لپاره يا تخنيکي سټنډرډونه، هلته هېوادونه بيا مکلف دي چې د سازمان له هوکړه ليکونو سره سم غير تعرفوي تدابير واخلي.

د مقداري يا کميتي محدوديت اصل يو څو عمومي او ځانګړې استثناءات هم لري. عمومي استثناءات د ګاټ په ۲۰مه (عام استثناءات)، ۲۱مه (امنيتي استثناءات)، ۱۹مه (حفاظتي تدابير)، ۱۲مه (Balance of Payments)، ۲۵مه (ابرا يا waivers)، او ۲۴مه ماده (منطقوي ترونونه) کې ذکر شوي دي. ځانګړې استثناءات بيا د ۱۱مې مادې په دويمه فقره او ۱۳مه ماده کې ذکر شوي دي. د ۱۱مې مادې استثناءات په ځانګړو حالاتو کې استفاده کېدلای شي لکه د خوراکي توکو يا نورو اړينو توکو د کمښت پر مهال، د ماهيانو پر وارداتو بنديز حمايه کول او داسې نور.

**د غير تعرفوي تدابيرو اړوند د افغانستان ژمنې**

افغانستان هېڅ ډول Tariff Quotas سيستم نه لري، يانې افغانستان ته چې هر څومره توکي واردېږي، تعرفه پرې يو ډول وضع کېږي. همدا راز د غير تعرفوي تدابيرو په لړ کې افغانستان د درملو، طبي الاتو، د سينګار شيانو، درملتون الاتو، د وترنرۍ اړوند طبي الاتو، وترنري درملونو او بيولوژيکي توکو، چاپ شويو کتابونو، بروشرونو، رسالې او نورو چاپ شويو توکو، فلمونو، مخابراتي سامان الاتو، وسلهوالو موټرو، وسلو، مرمۍ، نظامي سامان الاتو او داسې نورو توکو د واردولو لپاره جواز يا اجازه يا موافقه غواړي. همدا راز د ګمرکونو قانون (۱۳۹۵ لمريز کال) د ۶۶مې مادې له مخې، د ګمرک مامورين کولای شي پر هغو توکو چې «د ټولنيزو اخلاقو، عامه امنيت، د ژوند چاپېريال ساتنې، د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو د روغتيا او ژوند د هنري ارزښت لرونکو ملي ثروتونو، تاريخي او فرهنګي آثارو، يا د سوداګريزو او صنعتي شتمنيو او د دولت د نورو پاليسيو په منظور له اړندو تقنيني سندونو سره سم ممنوعيتونه او محدوديتونه وضع کړي».

**د افغانستان وارداتي رژيم (تعرفوي او غير تعرفوي تدابير)**

افغانستان همدا راز د وارداتو د رژيم په اړه په قوانينو کې ډېرې بدلونونه راوستي دي. د ګمرکونو قانون چې واردات هم تنظيموي، لومړی په ۱۳۸۴ لمريز کال کې په ۱۶ فصلونو او ۱۹۴ مادو کې تصويب شو. دغه قانون وروسته تعديل او د مادو شمېر يې ۲۰۷ ته پورته شو. د ګمرکونو قانون د وارداتو، تعرفو او ماليو اړوند ټول احکام په تفصيل سره ذکر کړي دي. ياد قانون د ګمرکونو اداره، ګمرکي تعرفه او د مالونو د بيې ټاکل، ترجيحي تعرفه په هغه صورت کې چې وارداتي مالونه د ټاکلي حجم حد ته محدودوي، د منشاء اصول، پر وارداتو محدوديت يا ممنوعيت وضع کول، ګمرکي اظهارليک، ګمرکي پړاوونه، آزادې حوزې او ګودامونه، ګمرکي موقفونه او ګمرکي سرغړونو (تخلفات) په اړه په تفصيل سره احکام ذکر کړي دي.

د سوداګرۍ پر وړاندې د خنډونو کمولو په لړ کې د ګمرکونو قانون د ۴۰مې مادې له مخې ۱۹ ډوله اموال (توکي) له ګمرکي محصول څخه معاف کړي دي، چې په دې کې د تحصيل او تعليم په نيت د کتابونو، جرايدو، مجلو او اخبارونو واردول هم شامل دي. همدا راز ۴۱مه ماده د ترجيحي تعرفو په اړه صراحت کوي چې اظهار کوونکی کولای شي د دې لاسته راوړلو لپاره غوښتنليک وړاندې کړي. البته که ترجيحي تعرفه د وارداتي مالونو د ټاکلي حجم حد ته محدودوي، نو په دوو حالتونو کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي. لومړی؛ د تعرفوي مجاز کميت؛ دا چې توريدي (وارد شوي) مالونو حجم له ټاکلي حد څخه زيات وي. دويم؛ تعرفوي اعظمي حد دی چې په اړوندو کړنلارو کې اټکل شوی وي. د مالونو د منشاء اصل غير تعرفوي اقدام ګڼل کېږي. د دې اصل اهميت دا دی چې په ځينو حالاتو کې تعرفې او محدوديتونه د اموالو منشاء ته په کتو اخيستل کېږي. د ګمرک قانون دغه اصل ته يو فصل ځانګړی کړی دی. ۴۲مه ماده د مالونو منشاء داسې تعريفوي: «هغه مالونه چې په يوه هېواد کې په بشپړه توګه استحصال يا توليد شوي وي، هغه هېواد د مالونو د توليد د منشاء په توګه پېژندل کېږي». ياد فصل د منشاء اصل تصديق، ترجيحي اسانتياوو څخه ګټه اخيستنه او که مالونه له يو هېواد څخه په زياتو هېوادونو کې توليد شوي وي په اړه هم احکام لري چې د منشاء اصل له موافقې سره مطابقت لري.

د غير تعرفوي تدابيرو په لړ کې افغانستان نور هم ډېرې قوانين تصويب کړي دي. موږ مخکې يادونه وکړه چې افغانستان په ځينو حالاتو کې د مالونو واردولو لپاره جواز يا اجازه غواړي. د بېلګې په توګه، د درمل، طبي الاتو، د سينګار شيانو، درملتون الاتو د توريد په اړه د عامې روغتيا قانون (۱۳۸۶ لمريز کال)، د درملو قانون (۱۳۸۷ لمريز)، د درملتون مقرره (۱۳۸۵ لمريز کال)، د درملو او طبي لوازمو د توليد او توريد مقرره (۱۳۸۵ لمريز کال) تصويب شوي دي چې تر دې دمه نافذ دي او د يادو قوانينو له مخې اشخاص بايد د نوموړو اموالو تر وارداتو وړاندې بايد جواز ولري او د جواز نه درلودلو په صورت کې نه شي کولای چې ياد توکي وارد کړي. همدا راز، د وترنرۍ اړوند طبي الاتو، وترنري درملونه او بيولوژيکي توکو اړوند يې د حيواني روغتيا (وترنرۍ) قانون (۱۳۹۵ لمريز کال) تصويب کړی دی. پر دې سربېره، د کتابونو د توريد اړوند د ولسمشر تقنيني فرمان دی چې (۱۳۸۵ لمريز کال) کې يې صادر کړی دی. د فلمونو واردولو په اړه د ۱۹۸۹ ز کال مقرره شته ده. د وسلو او اړوندو توکو د واردلو په اړه د کورنيو چارو وزارت لايحه ده چې په ۲۰۱۱ ز کال يې صادره کړې ده. افغانستان همدا راز د تخنيکي خنډونو د موافقې د تطبيق لپاره د ملي سټنډرډ قانون په ۲۰۱۰ ز کال کې په ۳۴ مادو کې تصويب کړ، چې د تخنيکي سټنډرډونو په اړه په کې په تفصيل سره احکام ذکر شوي دي. د ياد قانون د تطبيق لپاره افغانستان د سټنډرډ ملي اداره تاسيس کړه. د حيواناتو او نباتاتو د روغتيا اړوندو تدابيرو موافقې د تطبيق مرجع د کرنې، آبيارۍ او مالدارۍ او د عامې روغتيا وزارتونه دي. د سازمان له اصولو سره د مطابقت لپاره افغانستان د نباتي ورايتيو د حفاظت قانون (۱۳۹۵ لمريز کال)، د حيواني روغتيا (وترنرۍ) قانون (۱۳۹۵ لمريز کال)، د کرنيزو آفت وژونکو قانون (۱۳۹۵ لمريز کال)، د نباتاتو د ساتنې او قرنطين قانون (۱۳۹۶ لمريز کال) او د خوراکي توکو د خونديتوب قانون (۱۳۹۵ لمريز کال) تصويب کړل. د يادو قوانينو تر انفاذ وروسته، پخواني قوانين چې د وترنرۍ د خدماتو او نباتاتو د قرنطين په اړه نافذ وو، ملغې شول. د نويو قوانينو تصويبولو موخه يوازې د افغانستان په داخلي قوانينو کې د سازمان پېشنهادونو او معيارونو تطبيقول وو. د يادونې وړ ده چې افغانستان تر دې دمه د هغو توکو په اړه چې د بايوټکنالوژۍ پر مټ توليد شوي وي، هېڅ قانون او مقرره نه لري او نه يې واردات تر دې دمه د افغانستان د کوم قانون له خوا تنظيمېږي.

**دوام لري...**

# روحاني: جاپان دې د ايران او نړيوالو قدرتونو تر منځ د اټومي هوکړې په خونديتوب کې مرسته وکړي

د ايران ولسمشر حسن روحاني جاپان تـه د سفر پر مهال د ۲۰۱۵ ز کال د اټومـي هوکـړې د خونديتـوب پـه برخـه کـې لـه جاپانـه د مرستې غوښـتنه کـړې ده.

روحـاني د جاپان لـه لومړي وزير شـينزو ابي سره پـه غونډه کـې ويلي چـې د ايران او نړۍ د قدرتونـو تر منځ د ۲۰۱۵ ز کال اټومـي هوکـړه د تهران لپـاره ډېره مهمـه ده.

ده ويـلي چـې لـه دې هوکـړې څخـه د امريکا يـو اړخيـز او غيـر منطقـي وتـل غنـدي.

دا پـه داسـې حال کـې ده چـې د امريکا او ايران تـر منځ وضعيت هغـه مهال نـور هـم ترينګلـی شـو، چـې د امريکا ولسـمشر ډونالډ ټرمپ تېـر کال د نـړۍ د قدرتونـو او ايران تـر منځ لـه اټومـي هوکـړې د خپـل هېـواد د ايسـتلو اعلان وکـړ.

واشـنګټن لـه دغـه اعـلان وروسـته، پـر ايـران سـخت اقتصـادي بنديزونـه لګولي دي.

د جاپـان لومـړي وزيـر شـينزو ابي لـه حسـن روحـاني سره پـه خـبرو کـې لـه ايرانـه غوښـتي چـې د منځنـي ختيـځ د امنيـت پـه برخـه کـې دې څلـور کالـه مخکـې کـړې ژمنـې تـر سره کـړي.

ابي دغـه راز زياتـه کـړې چـې پـه منځني ختيـځ کـې د ترينګلتيـا او نـاوړه وضعيت لـه کبله اندېښـمن دی.

پـه ورته وخت کـې د جاپان يـوه لوړپوړي چارواکـي ويـلي چـې ابي د ايـران لـه ولسـمشر سره پـه کتنـه کـې همـدا راز په منځنـي ختيـځ کـې د جاپـاني بېړيـو د خونديتـوب لپـاره د سـمندري ځواکونو د ګومارلـو پـه اړه معلومـات ورکـړي دي.

دا پـه داسـې حال کـې ده چـې د روان زېږديـز کال پـه جـون مياشـت کـې د جاپـان يـوه تېـل وړونکـې بېړۍ د عمان پـه سـمندر کـې تـر بريـد لانـدې راغله او وسوځول شـوه.

واشـنګټن پـر دې بېړۍ د بريـد پړه پـر ايران اچولـې او لـه جاپانـه يـې غوښـتي چـې پـه هورمـز تنګـي کـې د امريـکا پـه مشرۍ د ائتـلاف برخـه شي چـې د نړۍ د تـر ټولو مهمـې ټرانزيټي لارې د امنيت خونـدي کولـو پـه اړه ډاډ تـر لاسـه کـړي.

دغـه راز ټـاکل شـوې چـې د جاپـان حکومـت بـه ډېـر ژر منځنـي ختيـځ تـه د ځواکونـو د لېـږد پـه تـړاو يـوه طرحه جوړه کـړي.

ايـراني چارواکـو بيـا پـه سـيمه کـې د نړيوالـو ځواکونـو حضـور رد کـړی او ويلي يـې دي چـې دا امـر د تېلـو د انتقـال پـه برخـه کـې ناامنـي رامنـځ تـه کـوي.

د يادونـې ده چـې حسـن روحاني د ايران يوازينـی لوړپوړی چارواکـی دی چـې په تېـرو دوو لسـيزو کـې يـې جاپان تـه سـفر کـړی دی.

تـر دې وړانـدې د جاپـان لومـړي وزيـر شـينزو ابي هـم لومـړی جاپانـی لوړپوړی چارواکـی و چـې ۴۰ کالـه وروسـته يـې تهـران تـه سـفر کـړی و.



# حضور جنگجویان خارجی در افغانستان



لطیف آرش

در اوایل ماه قوس سال ۱۳۹۸ ویب سایت ترور مانیتور از نشر یک نوار تصویری منصوب به تحریک اسلامی ترکستان شرقی مستقر در سوریه خبر داد. در این نوار تصویری فعالیت های نظامی جنگجویان این گروه در افغانستان به نمایش داده می شود و در قسمت دیگر این فلم واسطه های نظامی ارتش افغانستان نشان داده می شود که در اختیار این جنگجویان قرار دارند.

در شرایط فعلی که مذاکرات صلح میان دولت آمریکا و گروه طالبان بعد از توقف دو ماهه دوباره آغاز شده است، نشر این نوار تصویری چی معنی داشته می تواند و در صورت که دولت آمریکا و گروه طالبان به یک توافق دست یابد، سرنوشت جنگجویان خارجی مستقر در افغانستان چه خواهد شد؟ در این نوشته به پاسخ این پرسش ها می پردازیم، اما قبل از آن باید تاریخچه حضور جنگجویان خارجی به گونه مختصر بررسی کنیم.

**تاریخچه حضور جنگجویان خارجی در افغانستان**

زمانیکه مبارزه مجاهدین افغان علیه نیروهای اتحاد جماهیر شوروی و دولت وقت آغاز گردید، جنگ افغانستان حمایت کشورهای غربی و در رأس آن دولت ایالات متحده آمریکا را به دست آورد و نبرد علیه قشون سرخ در مدت کم صبغه بین‌المللی پیدا نمود. ایالات متحده آمریکا و کشورهای غربی امیدوار بودند که رقیب دیرینه آن ها یعنی اتحاد جماهیر شوروی در جنگ افغانستان با شکست مواجه شود. از همین رو با مجاهدین افغان کمک مالی و تسلیحاتی می نمودند.

در این جنگ در پهلوی مجاهدین افغان، جنگجویانی از سراسر کشورهای اسلامی برای مبارزه علیه نیروهای الحادی وارد افغانستان گردیدند که بعدها این نیروها بنام افغان العرب نامیده شدند.

**جنگ جویان افغان عرب یا افغان العرب**

این اصطلاح بر جوانانی اطلاق می شد که به نیت جهاد و مبارزه با شوروی و کمونیزم از کشورهای عربی همچون مصر، عربستان، الجزایر، لیبیا، یمن و غیره به پاکستان آمده و از آنجا به افغانستان می رفتند. بعد از آن این اصطلاح عام شد و به کلیه جوانانی که در جنگ افغانستان مشارکت داشتند، اطلاق شد. اکثر این جوانان از سازمان های جهادی کشورهای عربی بودند که از افکار و اندیشه های جهادی و انقلابی و سید قطب تاثیر پذیرفته بودند. از رهبران اصلی حرکت جهادی افغان العرب می توان از «عبدالله عزام» مؤلف کتاب «آیات الرحمن فی جهاد الافغان» و پس از او «اسامه بن لادن» نام برد. عبدالله عزام بخاطر نشر اخبار جهاد افغانستان، انسجام بیشتر جنگجویان عرب و کمک های صحی به مجاهدین افغان نهادی را تحت عنوان «مکت الخدمات» و مجله الجهاد را بنیان نهاد. وی مخالف ایجاد گروه مستقل عرب ها بود، ایمن الظواهری یکی از اعضای معروف گروه جماعت الجهاد اسامه بن لادن را تشویق نمود تا یک گروه جداگانه را برای جنگجویان ایجاد کند که در آن عرب ها به طور مستقل علیه نیروهای شوروی مبارزه نمایند. در اثر پافشاری ظواهری اسامه بن لادن علرغم مخالفت عزام «الماسده» یا کمین گاه شیران را بنیان گزاری نمود که در آن تنها جنگجویان عرب حضور داشتند.

پیتر برگن مؤلف کتاب «اسامه که من می شناسم» از قول اسامه بن لادن دلیل ایجاد الماسده را چنین بیان می کند: «مجاهدین افغان بیشتر برای غنیمت می رزمند و اغلب از روی یا روی با کاروان های مجهز روسی ابا می روزند، اما مجاهدین عرب برای رضای الله می جنگند. از همین رو الماسده در کوه های جاجی به خار چشم روس ها مبدل گردیده است».

در سال ۱۹۸۸ الماسده، قاعده انصار و جماعت الجهاد با هم یک جا شدند وسازمان القاعده را بینان گذاری نمودند که اسامه به عنوان رهبر و ظواهری در آن سمت معاونیت را داشت، درست یک سال بعد از تشکیل سازمان القاعده، عبدالله عزام در پشاور پاکستان ترور گردید.

درباره ترور مروزی عبدالله عزام نظریات گوناگون وجود دارند. چه کسی عزام را کشت؟ بعضی ها می گویند کار یک عرب – افغان دیگر مانند اسامه بن لادن یا ایمن الظواهری بوده است؛ اما احتمال درست بودن این فرضیه بسیار کم است؛ چون سرنوشت کسی که برای کشتن پدر جهاد تلاش می کرد، بسیار ناگوار می بود. برخی های دیگر سی آی ای یا موساد را مسؤل آن ترور می دانند؛ اما عزام به اندازه ی کافی برای آن ها مهم نبود. تعداد دیگری هم سعودی ها یا اطلاعات اردن را مقصر می خوانند؛ اما این دو کشور هم در آن زمان عادت نداشتند که اسلام گریان را بکشند. اداره ی خدمات امنیت دولتی «خاد» در اوایل دهه ی هشتاد دلایلی برای کشتن او داشت؛ اما نه پس از آن دهه. خیلی ها گلبدین حکمتیار که احساس می کرد عزام علاقه ی بیشتری به دشمن بزرگش، احمدشاه مسعود پیدا کرده را متهم ترور او می دانند؛ اما سندهای جدید نشان می دهند که حکمتیار و عزام در واقع دوستان نزدیکی بوده اند.

در این صورت تنها سازمان اطلاعات نظامی پاکستانیISI می ماند که توانایی و انگیزه ی آن ترور را داشت. در اواخر دهه ی هشتاد میلادی، عرب – افغان ها، برای پاکستانی مزاحمانی بودند که به طور آزادانه تری از پاکستان انتقاد می کردند و در سیاست مجاهدین افغان مداخله داشتند. هیچ سند محکمی دست داشتن ISI را در این ترور ثابت نمی کند؛ اما اسنادی وجود دارند که جرم ISI را ثابت نکرده ولی به آن اشاره می کند.

پس از خروج نیروهای اتحاد جماهیر شوروی از افغانستان بین عبدالله عزام و اسامه بن لادن بر سر اینکه پس از این، فلسطین «معرکه الجهاد» باشد یا آمریکا و حکومت های عربی، اختلاف پیش آمد. عبدالله عزام بر موضع نخست بود و بن لادن بر موضع دوم و همین سبب تشتت و چند دستگی درمیان جنگجویان افغان العرب گردید.

**به سوی سرزمین های دیگر**

بعد از سقوط حکومت داکتر نجیب الله در افغانستان و فروپاشی اتحاد جماهیر شوروی تعدادی از مجاهدین افغان- عرب به کشورهای خود شان برگشتند و بعضی شان به کشورهای آسیای مرکزی از جمله تاجکستان رفتند و در آن جا علیه حکومت های طرف دار روسیه جنگیدند. در همین حال اسامه بن لادن همراه با تعدادی از جنگجویان تحت فرمانش در ابتدا به عربستان سعودی و سپس به سودان رفت و در کار های عمرانی مصروف گردید، اما در کشور سودان علیه سیاست خارجی دولت عربستان سعودی انتقادات تندی را وارد می نمود.

دولت عربستان سعودی که برای آمریکا اجازه احداث پایگاه در سرزمین مقدس داده بود را محکوم می نمود. به گفته ابو جندل محافظ شخصی اسامه بن لادن، سودانی ها تا آخرین لحظه که بن لادن سودان را ترک کرد رفتار بسیار خوبی با او داشتند. او به دلیل برخورد سیاسی درباره عربستان سعودی در نطق ها و بیاینه ها موثرش، مجبور به ترک سودان شد.

**برگشت دوباره جنگجویان به افغانستان**

در سال ۱۹۹۶ عمر البشیر رئیس جمهور سودان نامه ای به استاد ربانی فرستاد. به قول یکی از نزدیکان استاد در آن زمان، رئیس جمهور سودان در این نامه از مشکلاتی که حضور اسامه در سودان برای این کشور به وجود آورده است، نوشته بود. عمر البشیر نوشته بود که فشارهای آمریکا بر سودان، کشور فقیر و درگیر جنگ داخلی در جنوب که یک نظام نو پای اسلامی را تجربه می کند، مشکلات فراوانی به وجود آورده است.

به نظر می رسد که حضور اسامه بهانه ای به دست آمریکا داده بود تا به سودان حمله نموده و نظام این کشور را از میان بر دارد. افغانستان کشوری است که در گیر جنگ است و شرایط به گونه ای بود که دیگر هیچ کشوری جرئت حمله به آن را نخوهد داشت. بنابر این، اگر دولت افغانستان با سودان همکاری نموده و اسامه را به افغانستان ببرد، مردم سودان هرگز این کمک افغان ها را فراموش نخواهد کرد. این خواست رئیس جمهور سودان در میان اعضای حکومت مجاهدین موجب ایجاد نظریات متفاوت گردید.

احمدشاه مسعود و به تبع وی استاد ربانی آمدن اسامه را به خیر افغانستان نمی دانستند و به این باور بودند که حضور اسامه در افغانستان موجب تحریک آمریکا به دشمنی با دولت مجاهدین خواهد شد، اما استاد سیاف به این باور بود که از وجود اسامه می توان به عنوان میانجی میان مجاهدین و طالبان سود برد.

بعد از سقوط حکومت مجاهدین و فتح جلال آباد توسط طالبان اسامه بن لادن و جنگجویان تحت امرش به طالبان پیوستند، با گذشت زمان حضور اسامه بن لادن برای حکومت طالبان درد سرساز گردید. به تاریخ ۲۷ ماه مارچ سال ۱۹۹۷ اولین مصاحبه مطبوعاتی اسامه از سوی روزنامه ی اندیپندینت نشر گردید. اسامه در این مصاحبه به دولت های عربستان سعودی و آمریکا هشدار داده بود.

بعد از نشر این مصاحبه، ملا عمر رهبر گروه طالبان از اسامه بن لادن خواست که دولت نو پای طالبان با مشکلات عدیده روبه رو است از این رو تلاش نکند که مشکلات مزید را به دولت وی ایجاد نماید و اسامه نیز در ظاهر این خواست اسامه را پذیرفت، اما درسال ۱۹۹۸ از سوی اسامه بن لادن یک اعلامیه ی هشدار آمیز علیه دولت های عربستان و آمریکا صادر گردید که بعد از نشر این اعلامیه نماینده خاص دولت آمریکار چردسن به کابل آمد و در این مورد با رهبری طالبان صحبت نمود.

در ماه می همان سال اسامه بن لادن به کمک بعضی از اعضای پایین رتبه طالبان یک کنفرانس مطبوعاتی را در ولایت خوست دایر نمود که به شمول CNN رسانه های معروف جهانی در آن حضور داشتند. در این کنفرانس مطبوعاتی اسامه یک بار دیگر دولت آمریکا را تهدید نموده بود، پس از این مصاحبه رهبری طالبان از اسامه بن لادن به صورت جدی خواست که مطابق پالیسی امارت اسلامی افغانستان عمل کند. بعد از اظهارات جنجالی اسامه سفارت های آمریکا در پایتخت های کنیا و تانزانیا مورد هدف قرار گرفت و دولت آمریکا اسامه را به دست داشتن در این حمله متهم نمود و سپس ولایت های خوست و کندهار هدف حملات راکتی آمریکا قرار گرفت، اما اسامه در آن حملات آسیب ندید. دولت آمریکا بعد از این واقعه دولت طالبان را به طور وسیع تحریم نمود.

در زمان حکومت طالبان در پهلوی جنگجویان عرب، نیروهای شبه نظامی تحریک اسلامی ازبکستان، تحریک اسلامی ترکستان شرقی و مبارزان چچنی نیز در افغانستان حضور داشتند.

در سال ۲۰۰۰ پالیسی کنترول نمودن اسامه بن لادن و سایر جنگجویان عرب از سوی طالبان به دلیل وضع تحریم های اقتصادی آمریکا بالای حکومت طالبان از میان رفت و از همین تاریخ به بعد تعدادی زیادی از جنگجویان و هواداران شبکه القاعده وارد افغانستان گردیدند. در پهلوی عرب از جمعه نمگانی نیز استقبال گردید، اما در باره ایغورها طالبان محتاط بودند و آن ها تنها حق زندگی کردن در افغانستان را داشتند، اگر چه تعداد آن ها بیشتر از صد نفر نبودند، اما بازهم دولت چین از این ناحیه نگران بود.

بعد از سقوط طالبان، جنگجویان عرب، ازبک، چچن و ایغور به آن طرف خط فرضی دیورند متواری گردیدند. این جنگجویان در وزیرستان از سوی ملک نیک محمد وزیر استقبال شدند.

زمانیکه آمریکا بالای عراق حمله نمود، تعدادی از این جنگجویان به عراق رفتند و در قالب القاعده عراق تنظیم گردیدند. تا زمان مرگ اسامه بن لادن سازمان القاعده بعیت خویش با ملاعمر را نگهداشتند و بعد از قتل اسامه و وفات ملا عمر ایمن الظواهری با ملا اختر محمد منصور بعیت نمود که این بعیت از سوی ملا منصور پذیرفته شد، اما پس از کشته شدن ملا اختر محمد منصور و آمدن ملا هیبت الله اخوندزاده یک بار دیگر ظواهری بعیت اش را با اخوندزاده تجدید نمود که تا حال از سوی وی تایید را یا رد نگردیده است.

جنگجویان ازبک مستقر در وزیرستان از سوی قبیله وزیر متهم به ترور بزرگان قبیله وزیر گردیدند و قبیله وزیر به قبیله مسید اخطار داد که در ظرف ده روز این جنگجویان را از وزیرستان شمالی اخراج کند، در غیر آن، بالای وزیرستان شمالی حمله خواهد نمود. ملا عمر جهت خاتمه دادن به این بحران معاون خویش ملا عبدالغنی برادر را به وزیرستان فرستاد و ملا برادر جنگجویان ازبک را به ولسوالی خاک افغان ولایت زابل منتقل نمود. بعدها همین جنگجویان ازبک در ولایت زابل برای طالبان به یک درد سر مبدل شدند و طالبان مجبور شدند که علیه آن ها دست به عملیات نظامی بزنند.

**داعش و جنگجویان خارجی**

بعد از آغاز جنگ داخلی در سوریه و شکل گیری گروه دولت اسلامی یا همان داعش اسبق تعدادی از جنگجویان عرب مستقر در دو سوی خط دیورند به سوریه رفتند، اما بعد از اعلام خلافت از سوی داعش در سال ۲۰۱۴ و هم چنان ایجاد شاخه خراسان در سال ۲۰۱۵ در منطقه رزمک وزیرستان تعدادی از جنگجویان عرب و ازبک مستقر در دو سوی خط فرضی دیورند با این گروه بعیت نمودند .

**توافق صلح و آینده نامعلوم جنگجویان خارجی در افغانستان**

در شرایط فعلی، جنگجویان خارجی در افغانستان به دو بخش قابل تقسیم است:

• جنگجویان خارجی که هنوزهم با طالبان افغان متحد هستند

• جنگجویان بیرونی که تحت رهبری شاخه خراسان گروه دولت اسلامی یا داعش سابق فعالیت می کنند

قرار است به زودی توافقنامه صلح میان گروه طالبان و ایالات متحده آمریکا امضا شود، اما روی مساله جنگجویان خارجی از جمله شاخه خراسان و آینده این گروه هیچ بحث از سوی ایالات متحده، دولت افغانستان و گروه طالبان صورت نمی گیرد. اگر چه طالبان افغان حضور جنگجویان خارجی در صفوف شان را به طور رسمی انکار می کنند، اما هنوز هم جنگجویان خارجی در درون صفوف طالبان فعالیت دارند. جنگجویان افغان عرب بعد از سقوط حکومت داکتر نجیب الله به یک درد سر به حکومت مجاهدین و سپس حکومت طالبان مبدل گردیدند. حالا یک بار دیگر تاریخ در حال تکرار شدن است. طالبان بعد از هژده سال جنگ علیه نیروهای خارجی قرار است با آن ها وارد مذاکره شوند و نیروهای آمریکایی نیز مانند قشون سرخ در نتیجه یک توافق سیاسی از افغانستان بیرون شوند، اما سوال اساسی این جا است که سرنوشت جنگجویان خارجی متحد طالبان خصوصاً جنگجویان ایغور و عرب بعد از خروج قوای خارجی از افغانستان چه خواهند نمود؟

از چهل سال به این طرف، جنگجویان عرب بی وطن و سرگردان هستند آن ها با ختم یک جنگ به جنگ دیگری رفته اند. وقتی جنگ افغانستان ختم گردید، آن ها به تاجکستان و آذربایجان رفتند واز آن جا بوسنی و چچن، زمان که مسلمانان بوسنی با صرب ها به توافق دست یافتند، این توافق صلح با مخالفت جنگجویان عرب روبه رو گردید. رهبری جنگجویان عرب خواستند در مورد این توافقنامه صلح تصمیم بگیرند، اما در مسیر راه بیش از بیست فرمانده ارشد عرب که در جنگ مسلمانان بوسنی علیه صرب ها می رزمیدند، در یک کمین افراد مسلح جان باختند. در مورد این که فرماندهان مذکور توسط استخبارات صربستان کشته شدند و یاهم توسط مسلمانان بوسنی و یاهم به توافق هر دو جهت این کار صورت گرفت، شواهد کافی در دست نیست.

زمانیکه جنگ داخلی تاجکستان به پایان رسید، یکی از فرماندهان ارشد عرب بنام خطاب که از افغانستان به تاجکستان رفته بود، در ابتدا وارد داغستان گردید و سپس راهی چچن شد و در جنگ گروزنی در کنار جنگجویان چچنی علیه روس ها رزمید. جنگ چچن درسال ۱۹۹۶ به اوج خود رسید. خطاب درهمان سال و در یک مورد با ۵۰ مجاهد طی یک کمینی یک قطار بزرگ نظامی روس ها را مورد حمله قرار داد. رسانه های روسی از کشته شدند ۲۲۶ سرباز و افسر در این حمله قرار دادند که سه جنرال در جمع کشته شدگان بود. گروه مربوط به خطاب حملاتی را هم در عمق خاک روسیه انجام داد که موجب تلفات سنگین شد. روس ها در اواخر سال ۱۹۹۶ به صورت موقت از چچن عقب نشینی کردند. سرانجام خطاب در سال ۲۰۰۷ در چچن به شکل مرموزی به وسیله زهر کشته شد.

**پایانه**

حالا سرنوشت جنگجویان خارجی مستقر در افغانستان یک بار دیگر در هاله از ابهام است. به گمان اغلب جنگجویان عرب و ایغور متحد طالب بعد از توافق طالبان با آمریکا و دولت افغانستان با شاخه خراسان گروه دولت اسلامی یا داعش اسبق یک جا خواهند شد و در کشورهای چین، آسیای مرکزی و ایران دست به فعالیت نظامی خواهند زد. از سوی دیگر، شماری از کشورهای منطقه، کشورهای غربی و در رأس آن امریکا را به حمایت این نیروها متهم هستند. چون نیروهای یاد شده علیه علیه رقیب های نظامی - اقتصادی غرب می رزمند، احتمال کمک کشورهای غربی به این نیروها بعید به نظر نمی رسد. و در صورت که این نیروها از سوی کشورهای غربی حمایت گردد و در کشورهای منطقه مداخله نظامی کنند، آیا کشورهای منطقه در قبال این موضوع سکوت خواهد نمود یا عمل بالمثل انجام خواهند دارد و در صورت که کشورهای منطقه در این مورد واکنش نشان بدهند، آیا یک بار دیگر افغانستان به مرکز جنگ های نیابتی کشورهای منطقه و فرا منطقه مبدل نخواهد شد؟

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**درېیمه برخه**

**افغانستان**

**لسم څپرکی**

**په لوی کندهار کې نوي طالبان**




طالبان په رسمي بڼه د تریاکو د کښت مخالفت کوي، ځکه له تریاکو هیروین جوړېږي او ځکه هغوی په سویلي افغانستان کې د نشه یي توکو پر کاروبار بشپړ کنټرول نه لري. تریاک د نشه یي توکو د کاروبار یوه برخه جوړوي. له کلونو طالبانو ته په افغانستان، پاکستان او خلیج هېوادونو کې بډای خلک مالي ملاتړ ورکوي. دا خبره لا څرګنده نه ده چې د پاکستان استخبارات په کومه کچه له طالبانو سره مالي همکاري کوي. هغه بهرني قراردادیان چې په امنیت، لوجستیک او رغونې په برخو کې کار کوي هم طالبانو ته مالي ملاتړ ورکوي. ځینو ان د جګړې په ډګر کې د خپلو فعالیتونو د خوندیتوب په موخه جګړه مارو قوماندانانو ته لاس په لاس پیسې ورکولې.

**د طالبانو رسنیز فعالیتونه**

د طالبانو ډېری رسمي چارې په پښتو ژبه دي. د هغوی تبلیغات چې په غږیزو او انځوریزو بڼو دي، په سي ډي او ډي وي ډي پیتو کې د شعرونو، ویناوو او د جګړهییزو فعالیتونو په اړه دي. د طالبانو وېبپاڼې ته په پرلپسې توګه د جګړهییزو بریاوو، د حکومت او ناټو د ادعاوو د ردولو په اړه خبرونه پورته کېږي. د طالبانو په رسنیزو فعالیتونو کې لیکنې، د تګلارو وضاحت، ویناوې او د وژنو خبرونه تر ټولو زیات تر سترګو کېږي.
له رسنیزو لیکنو یې ښکاري چې د هغوی تمرکز تر ډېره د افغانستان پر مسائلو دی، هغوی ډېر کم د نړیوالو مسائلو په اړه خبرونه خپروي. تحریک د خپلو موخو لپاره د افغانستان د تاریخ، اوسنیو او راتلونکو موخو په اړه خپلې ستراتیژیکې کربنې بیانوي. طالبان د نړیوالو مسلمانو جهادي ډلو د پوهاوي لپاره په عربي ژبه د الصمود په نوم یوه مجله هم خپروي. د دې مجلې په ۵۹مه ګڼه کې په دې عنوان (مسلمان افغانستان د ولسواکۍ او غربیتوب ناولتیا ردوي.) یوه لیکنه خپره شوې وه. لیکنه په افغانستان کې د تېرې یوې پېړۍ د ولسواکۍ او عصریتوب ټولې هڅې ردوي. لیکنه زیاتوي چې شاه امان الله خان د اروپایي هېوادونو تر اغېز لاندې راغلی و، ځکه نو د هغه د تعلیم او د مېرمنو د حقونو هڅې ردوي او د سېکولریزم، غربیتوب او ولسواکۍ نوم ورکوي.
د امان الله خان پر ضد د پاڅون په اړه لیکنه څرګندوي: ((خلکو هغه ته بې دینه وویل، د هغه پر ضد ودرېدل او له هېواده یې وشاړه. د هغه ټولې غربي پروژې یې له منځه یوړې او هغه یې بهر ته په شړلو اړ ویست.)) لیکنه، له امان الله خان وروسته د مصاحبانو کورنۍ د عصریتوب هڅې هم غندي. پر اعلیحضرت محمد ظاهرشاه هم نیوکه کوي: ((هغه لوېدیځوال کلتور راوړی و. د غربي ښوونکو او موخو سره یې تعلیمي پروګرامونه راوړي وو. لوېدیځو هېوادونو او شوروي اتحاد ته یې اجازه ورکړې وه چې خپل تعلیمي پروګرامونه پلي کړي، له دې سره یې کینې اړخو او ګوندونو ته چې د غربي ولسواکۍ لپاره یې کار کاوه، د پیاوړتیا لاره اواره کړه، خلک یې له اسلام څخه لیرې کړل، ځکه نو د یوې مسلمانې ټولنې د پیاوړتیا مخه ډب شوې وه.))
هغوی په دې لیکنه کې، په ۱۹۸۰ز لسیزه کې د شوروي پر ملاتړ کمونېستو رژیمونو او د لوېدیځ پر ملاتړ د حامد کرزي پر حکومت سختې نیوکې کوي. دوی وایي چې په پای کې د کمونېستانو کودتا په ۱۹۷۸ز کال د روسانو یرغل ته لاره اواره کړه: ((دا مهال د کمونېستانو تر سیوري لاندې غربي نظریاتو پراختیا ومونده چې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند یې استازیتوب کاوه، هغوی غوښتل چې افغانان هم د منځنۍ اسیا هېوادونو په څېر له خپل دین او تاریخ تېر شي.)) لیکنه کې پر لوېدیځ تور لګول شوی چې ګنې د طالبانو له را پورته کېدو سره یې د هغوی پر وړاندې دسیسې پیل کړې وې: ((لوېدیځ د طالبانو د حکومت پر ضد یو ائتلاف جوړ کړ چې پکې له ختیځ څخه تر لوېدیځ پورې ټول کفري قدرتونه شامل وو، پر دې مسلمان هېواد یې هم د ولسواکۍ د پلي کېدو لپاره برید وکړ. )) لیکنه کې د کمونېزم او لوېدیځوالې ولسواکۍ تر منځ هېڅ توپیر نه دی شوی. لیکنه زیاتوي: ((ولسواکي هماغه یو مطلب دی، که د کمونېزم او یا هم د لېبرال سېکولرېزم په بڼه وي، مسلمانانو یې ځکه پر وړاندې جګړه وکړه.))
مقاله لیکي چې لوېدیځ د افغانانو د اسلامي عقیدې د بدلون په لټه کې دی: ((غربیان او عیسویت خپلې چارې پر څلورو برخو متمرکزې کړې دي؛ پوهنه، رسنۍ، د خلکو ټولنیز چلند بدلولو او عیسویت پلي کول او په افغانستان کې د لړکیو او کمونېست پلوو پاته شوو ډلو ملاتړ.)) مقاله لیکي، په افغانستان کې د لویدیځوالو نظامي موجودیت د واکمنۍ پر مانا دی: ((د ټولنیز چلند د بدلولو په برخه کې د غرب پوځیان او په سلګونو ملکي اداري د اسلامي دودیزې ټولنې د بدلولو په هڅه کې دي. هغوی دا کار د مدني ټولنو، د ځوانانو او مېرمنو ټولنو، شوراګانو، تخنیکي اتحادیو، ښارونو کې د سیاسي بلاکونو او همداراز کلیو او بانډو کې پلې کوي. غرب د دې نوو سازمانونو پر مټ د خلکو په منځ کې غرب پالنه د سیمینارونو، کنفرانسونو، ټولګیو، راډیویي پروګرامونو او خلکو ته د ټیپونو او راډیوګانو پر وېشلو سره مخکې وړي.))
**دوام لري...**

# افغان سویس د لوړو زده کړو طبي موسسه

حمیدالله حمیدي



افغان سویس د لوړو زده کړو طبي موسسې خپلې چارې په لوړو زده کړو وزارت کې تر ثبت او راجسټر وروسته، په ۱۳۹۱ لمریز کال کې پیل کړې دي.
د دغې موسسې مالي او اداري مدیر ښاغلی نور الرحمن عابد کوهستاني وایي، له پیله تر اوسه پورې دوه پوهنځي معالجوي طب او ستوماتولوژي لري چې محصلینو ته پکې طبي لوړې زده کړې ورکوي. د ښاغلي کوهستاني په خبره، موسسه یې په کابل کې دوې څانګې لري، خو تر اوسه پورې له کابل پرته په نورو ولایتونو کې کومه څانګه نه لري. افغان سویس طبي د لوړو زده کړو موسسه د دوو زرو په شاوخوا کې محصلین لري، چې ۶۰ سلنه یې نارینه او پاتې یې ښځینه محصلینې دي.
دا چې افغان سویس د لوړو زده کړو طبي موسسې تر اوسه پورې له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع نه ده کړې، نو د ماسترۍ کوم پروګرام هم نه لري، خو په پام کې لري چې په راتلونکي کې د ماسترۍ پروګرامونه هم پیل کړي. نور الرحمن عابد کوهستاني وایي، له ستوماتولوژي پوهنځي څخه یې تر اوسه پورې یوه دوره محصلین چې شمېر یې ۸۲ کسانو ته رسېد، فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. دی وایي، د طب پوهنځي لومړۍ دوره محصلین یې د سه تاج پر دوره بوخت چې په نږدې راتلونکي کې به دغه دوره پای ته ورسوي او عملاً به د خپلو هېوادوالو د خدمت جوګه شي.
په افغان سویس طبي د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۱۰۸ ښځینه او نارینه استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي. د ښاغلي کوهستاني په خبره، له دې ډلې ۴۴ ښځینه او ۶۴ نارینه استادان دي. دی وایي، ۱۸ استادان یې د ماسترۍ او پاتې نور ټول یې د دوکتورا تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او په خپل مسلک کې یې تخصص اخیستی دی. کوهستاني وایي، دا چې په دې کچه استادان په افغانستان کې یو څه په سختۍ پیدا کېږي، نو ۲۰ استادان یې دایمي او پاتې نور یې قراردادي استادان دي چې تر ډېره د کابل له طبي پوهنتون څخه د تدریس لپاره ورځي.
دا چې د لوړو زده کړو وزارت د نوي طرزالعمل له مخې د خصوصي پوهنتونونو د طب پوهنځي په کال کې یوازې د سلو نویو محصلینو د جذب اجازه لري، نو ښاغلی کوهستاني وایي چې دوی په کانکور کې هر پوهنځي ته سل نوي محصلین جذبوي. دا چې
دغه موسسه په کابل کې دوه څانګې لري، نو کولای شي په ټوله کې هر کال څلور سوه نوي محصلین جذب کړي.
افغان سویس طبي د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره تخفیف لري. د دې موسسې مالي او اداري وایي، هغه محصلین چې دلرې پرتو ولایتونو دي او اقتصاد یې ښه نه دی، دوی ورته سل، پنځوس، څلوېښت او دېرش سلنه تخفیف ور کړی دی. دغه راز د شهیدانو او معلولینو د ورثهوو لپاره هم ځانګړی تخفیف لري. ښاغلی کوهستاني وایي، همدا اوس د ۲۰۰ په شاوخوا کې داسې محصلین لري، چې سل سلنه تخفیف یې ورکړی دی او په وړیا ډول په دې موسسه کې لوړې زده کړې کوي. دغه راز د لوړو زده کړو وزارت په ګډون، ځینې نورې اداري هم شته چې دوی ور سره تړون لري او له مخې یې هغه محصلین چې د دغو ادارو له خوا ورته معرفي کېږي، ځانګړی تخفیف ورکوي.
دغه موسسه د ورځې په دوو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ور غواړي، چې یوه ډله یې سهار اته بجې ورځي او تر دوولسو بجو پورې درس وایي او بله ډله یې بیا د ماسپښین یوه بجه ورځي او د مازدیګر تر څلورو بجو پورې پر زده کړو بوخت وي. د دې تر څنګ، ځینې محصلین چې پر سه تاج دوره بوخت دي، د ورځې په اوږدو کې خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکوي.
افغان سویس د لوړو زده کړو طبي موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره دوه ډوله کتابتون لري، چې په یوه کې په هارډ ډول او په بل کې په سافټ ډول کتابونه موجود دي. د ښاغلي عابد کوهستاني په خبره، په هارډ ډول یې ۱۲زره ټوکه کتابونه د خپلو محصلینو په واک کې ورکړي دي او تر څنګ یې ۲۶ زره بېلابېل تخصوصي کتابونه په ډیجټالي کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي، چې محصلین او استادان یې وخت ناوخت ګټه ترې اخلي او مطالعه کوي یې. د دې تر څنګ یې د محصلینو لپاره ۲۴ ساعته د انټرنېټ اسانتیا هم برابره کړې ده، څو د خپلو ستونزو د هوارې په برخه کې ترې کار واخلي. نوموړی وایي، د برېټانیا سفارت په همکارۍ د دغه هېواد له عامه کتابتون سره هم لینک لري، څو یې محصلین وکولای شي په طبي برخه کې له نویو څېړنو او تجربو هم ګټه واخلي.
د لوړو زده کړو دغه موسسه په کور د ننه له البیروني، کندهار، ننګرهار، بلخ پوهنتون، په پروان کې له دانش خصوصي پوهنتون او له هېواده بهر د ایران ازاد اسلامي پوهنتون سره هوکړې لري، چې له مخې یې دوی د دې پوهنتونونو له تجربو ګټه اخلي او خپلې ستونزې ور سره شریکوي. دی وایي، هڅه یې دا ده چې وکولای شي په کور د ننه او بهر له نورو پوهنتونونو سره هم هوکړې ولري او په ګډه کار وکړي.
دا چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري د دولتي ډیپلومونو لړۍ پیل شوې ده، خو سویس د لوړو زده کړو طبي موسسې ته تر اوسه پورې وار نه دی رسېدلی، نو د دې موسسې مالي او اداري وایي، دوی خپلو محصلینو ته د نومرو جدول او یوه تصدیق پاڼه ورکوي چې د پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت له لوري تاییدېږي او فارغ شوي محصلین کولای شي د دې تصدیق پاڼې په وسیله په کور د ننه او بهر دواړو کې نورې لوړې زده کړې وکړي او یا هم د دندې په پیدا کولو کې ترې ګټه واخلي. دی وایي، دا چې تر اوسه پورې یې یوه دوره محصلین فارغ کړي دي، نو فارغ شویو محصلینو ته یې پر وخت دغه تایید پاڼې ورکړې دي، خو وروستي او دولتي ډیپلومونه به هغه وخت د وزارت له لوري ورکول کېږي، چې د دوی د موسسې وار را ورسېږي.
په افغان سویس د لوړو زده کړو طبي موسسه کې د نظري زده کړو تر څنګ عملي زده کړې هم ور کول کېږي. دا چې دغه موسسه دوه طبي پوهنځي لري او د نظري زده کړو تر څنګ عملي کار ته هم اړتیا ده، نو یو کادري روغتون یې جوړ کړی چې محصلین کولای شي د نظري زده کړو تر څنګ، په دغه روغتون کې عملي کار وکړي او ان د سه تاج دوره هم پکې بشپړه کړي. د دې تر څنګ، دغه موسسه د کارموندنې یو مرکز لري څو وکولای شي فارغ شویو محصلینو ته د دندې لټه وکړي. ښاغلی کوهستاني وایي، اتیا سلنه فارغ محصلین یې په دولتي او خصوصي روغتونونو کې پر کار بوخت دي او پاتې شل سلنه نورو یې بیا په اړونده برخه کې شخصي کار پیل کړی، روغتونونه او کلینیکونه لري.
د دې موسسې اداره د خپل ستراتیژیک پلان له مخې غواړي، چې په راتلونکي کې نوي پوهنځي ولري، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع وکړي، د ماسترۍ پروګرام ولري او په نړیواله کچه یو طبي پوهنتون وي. د عابد کوهستاني په خبره، د دواړو پوهنځیو د محصلینو لپاره یې مجهز لابراتوارونه، کادري روغتون، د تطبیقاتو څانګه او نور هغه امکانات برابر کړي چې د محصلینو اړتیا بلل کېږي.
د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې خصوصي پوهنتونونه تر جدي څارنې لاندې ونیسي، د دې تر څنګ د خصوصي پوهنتونونو په برخه کې د دغه وزارت وروستۍ کړنې چې د پوهنتونونو ارزونه ده، ستایي او د دوام غوښتنه یې کوي. د یادې موسسې اداره له دغه وزارت څخه غواړي چې د خصوصي پوهنتونونو په ظرفیت لوړولو کې مرسته وکړي، څو په خپلو پښو ودرېږي او د نړۍ له پوهنتونونو سره سیالي وکړای شي.

# خونړۍ جګړه او د سولې هڅې؛

## دې هېل: د امریکایانو حضور په افغانستان کې د جګړې د دوام ستر لامل دی



امریکایي چارواکي وایي، افغان جګړه یوازې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د خبرو له لارې د حل وړ ده. وروسته له هغه چې واشنګټن پوسټ د افغان جګړې په اړه ځینې اسناد خپاره کړل، امریکایي حکومت دلته د روان وضعیت په اړه تر سخت فشار لاندې دی. نړیوالې رسنۍ پر دې باور دي چې امریکا د یوې بې پلانه او نامعلومې جګړې لپاره زرګونه افغانان وژلي دي. په دې وروستیو کې ډېرو رسنیو د واشنګټن پوسټ پر اسنادو تحلیلونه خپاره کړي. امریکایي جنرالان هم ځان بریالی بولي او په خبره یې، اوس د دې وخت دی چې جګړه د افغانانو په لاس ختمه کړل شي.

د واشنګټن پوسټ د اسنادو تر خپرېدو وروسته، د لومړي ځل لپاره لوړپوړو امریکایي نظامیانو پر دې اسنادو څرګندونې وکړې. دوی دغه اسناد رد کړل، خو ځانونه یې بریالي وبلل. د امریکا د پوځ لوی درستیز جنرال مارک میلي وایي، اسناد ناسم دي او دوی په افغانستان کې خپلې موخې تر لاسه کړې دي. د ده په خبره، افغانستان اوس یو حکومت لري او طالبانو ته پکار ده چې له یاد حکومت سره خبرې وکړي. میلي وایي، افغان جګړه یوازې او یوازې د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د مخامخ خبرو او توافق له لارې د ختمېدو وړ ده.

بلخوا دې هېل نړیوالې نشریې هم بیا په افغانستان کې پر روانه جګړه یو تحلیل خپور کړی دی. په دغه تحلیل کې راغلي چې په افغانستان کې د روانې اوږدې جګړې ستر لامل د امریکا موجودیت دی او که دغه هېواد له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي، نو خونړۍ جګړه به هم ورسره ختمه شي. د مقالې د لیکوال په باور، په افغانستان کې د امریکا له میلیاردونو ډالرو مصرف سره سره، دا هېواد د دې جګړې پر ګټلو بریالی شوی نه دی او په خبره یې، د افغان ستونزې هواری د امریکا له وسه پورته خبره ده.

لیکوال او نظامي کارپوه جراد لابر وایي، دوی د امریکا او طالبانو تر منځ د پیل شویو خبرو په لړ کې د ټرمپ له هغې پرېکړې هرکلی کوي، چې په خبره یې، غواړي له افغانستانه خپل څلور زره سرتېري وباسي. هغه وایي: ((د ټرمپ دا پرېکړه پر ځای ده چې غواړي له افغانستانه سرتېري وباسي. اوس د دې وخت دی چې په افغانستان کې خپل حضور پای ته ورسوو)).

لابر د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې هغو اسنادو ته په اشارې چې ویلي یې وو، امریکایي مشرانو د افغان جګړې په اړه خلک تېر ایستلي دي، زیاته کړې، د افغان جګړې ګټل ناممکن دي او له همدې امله د سرتېرو ایستل غوره پرېکړه ده. دی ټینګار کوي چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو په حضور سره به یوازې او یوازې د دوی تلفات ډېر شي، خو بیا به هم له نظامي لارو جګړه و نه ګټل شي.

د دې هېل په دغه مطلب کې د اداري فساد په اړه هم لیکل شوي، د امریکا او ځینو نورو مرستندویه هېوادونو او بنسټونو له لوري د بې شمېره پیسو ورکړه او له هغو د غوره نظارت نشتون په افغانستان کې پراخ فساد ته لار هواره کړې او دا پیسې د بیارغونې پر ځای د فاسدو دولتي چارواکو او مافیایي کړیو جیبونو ته تللې دي.

بلخوا د امریکا د دفاع وزیر بیا د دې جګړې پر پای ته رسولو ټینګار کوي. مارک ایسپر په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې دوی په افغانستان کې یو واضح ماموریت لري او هغه د ترهګرو ختمول دي. د ده په خبره، دوی د ترهګرو تر ختمولو پورې په دغه هېواد کې خپل ماموریت ته ادامه ورکوي او اجازه نه ورکوي چې ترهګرې ډلې په دې هېواد کې امن پټنځایونه ولري. نوموړي د سرتېرو د کمولو په اړه هم ویلي چې تر اوسه یې په دې برخه کې رسمي سپارښتنه او یا امر نه دی تر لاسه کړی. د پنټاګون مشر دا څرګندونې داسې مهال کوي چې په دې وروستیو کې له افغانستانه د زرګونو عسکرو د وتلو راپورونه خپاره شوي دي.

## پنټاګون: تر هغې په افغانستان کې پاتې کېږو چې د دغه هېواد د امنیت په تړاو ډاډ تر لاسه کړو

د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون ویلي، څو چې دا ډاډ تر لاسه نه شي چې افغانستان یو ځل بیا د تروریستانو لپاره پر خوندي ځای نه بدلېږي، په دغه هېواد کې به امریکایي سرتېري حضور ولري.

د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر د دغه هېواد د وسله وال پوځ له عمومي لوی درستیز مارک میلي سره په یو ګډ مطبوعاتي کنفرانس کې ویلي، چې امریکایي سرتېري به تر هغه په افغانستان کې حضور ولري، څو دغه هېواد د تروریستانو لپاره پر امن ځای بدل نه شي.

هغه زیاته کړې: «موږ په افغانستان کې ماموریت لرو چې دغه هېواد د تروریستانو لپاره پر امن ځای بدل نه شي، خو چې د دغه ماموریت د پای ته رسېدو په اړه ډاډ تر لاسه نه کړو، د دغه کار لپاره به په افغانستان کې حضور ولرو».

په ورته وخت کې د امریکا د وسله وال پوځ عمومي لوی درستیز هم په دغه غونډه کې ویلي چې د امریکا متحده ایالتونو په افغانستان کې خپل هدف پر بریالیتوب سره تعقیب کړی او د سپټمبر د ۱۱مې په څېر د بریدونو مخه یې نیولې ده.

میلي یو ځل بیا د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې هغه راپور رد کړی چې ویلي وو، امریکایي چارواکو په افغانستان کې د تېرې ۱۸ کلنې جګړې په اړه خلکو ته غلط معلومات ورکړي دي. خو نوموړي زیاته کړې چې نظامي فشارونه سولې ته د رسېدو اساسي حللاره نه ده.



دغه امریکایي چارواکي داسې مهال دا څرګندونې کوي، چې د ځینو امریکایي چارواکو په خبره، ټاکل شوې چې ولسمشر ټرمپ په نږدې راتلونکې کې له افغانستانه د څه باندې څلورو زرو امریکایي سرتېرو د ایستلو اعلان وکړي.

دا څرګندونې داسې مهال کېږي چې تېره اونۍ یو ځل بیا په قطر کې د افغان سولې په اړه د امریکایي او طالب استازو تر منځ د سولې خبرې پیل شوې چې تر دې مهاله یې لا جزیات له رسنیو سره نه دي شریک شوي. خو د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد تېره اونۍ کابل ته د سفر پر مهال ویلي وو، چې د سولې په خبرو کې مهم پړاو ته رسېدلي دي.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین بیا ورمه ورځ پر خپل ټوېټر لیکلي چې له افغانستانه د ټولو امریکایي سرتېرو د ایستلو په اړه تر هوکړې وروسته به بین الافغاني مذاکرات پیل شي.

## اعتراض کوونکي: د کجکي برېښنا پرې کېدو خلک له ډېرو ستونزو سره مخ کړي دي

له تېرو یوولسو ورځو راهیسې د هلمند پر مرکز لښکرګاه او کندهار ښارونو د کجکي بند برېښنا پرې شوې ده.

د هلمند د برېښنا شرکت مسوولینو ویلي چې طالبانو د کجکي بند پر لویه لار ماینونه ځای پر ځای کړي او د یاد بند د کارکوونکو لپاره یې د تګ راتګ ځانګړې لار غوره کړې، خو حکومت بیا پر دې لار د تګ راتګ اجازه نه ورکوي.

د هلمند مدني فعالانو او اوسېدونکو د همدې ستونزې په غبرګون کې تېره ورځ اعتراضي غونډه جوړه کړې وه.

د دوی له ډلې عبدالولي پټیال ویلي چې له تېرو یوولسو ورځو راهیسې د لښکرګاه برېښنا نشته او خلک په سختو ستونزو کې دي.

د هغه په خبره: «موږ برېښنا غواړو، دغه مشکل باید ژر حل شي».

دغه راز د لښکرګاه ښار اوسېدونکي عبدالهادي اعتماد ویلي چې حکومت او طالبان باید د برېښنا مسئله سیاسي نه کړي.

هغه زیاته کړې: «د برېښنا نشتون یوازې عامو خلکو ته ستونزې پیدا کړې دي».

د دغه ولایت ځینو نورو اوسېدونکو هم ورته څرګندونې کړې او له حکومت او طالبانو یې غوښتي چې تر هر څه ژر دغه ستونزه هواره کړي.



په دې اړه د هلمند د برېښنا شرکت رییس وحیدالله علیزي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې د برېښنا ستونزه طالبانو پیدا کړې ده.

هغه زیاته کړې: «د کجکي برېښنا بند د تګ راتګ پر لار یې ماینونه ایښي او د دغه بند د کارکوونکو لپاره یې بله لار غوره کړې، نو په هغه لار یې بیا حکومت نه پرېږدي چې لاړ شي او دا یو لوی مشکل دی».

د نوموړي په خبره، قومي مشران یې طالبانو ته استولي څو دغه ستونزه هواره کړي.

په ورته وخت کې د هلمند د والي ویاند عمر ځواک هم ویلي چې د لښکرګاه ښاریانو لپاره د شپې له مخې د نیم ساعت لپاره د جنراتور په وسیله د برېښنا ورکولو پلان جوړ شوی دی.

هغه ویلي: «د برېښنا په برخه کې مشکل پیدا شوی دی، موږ کوښښ کوو چې هر څه ژر یې حل کړو».

بل لور ته وسله والو طالبانو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.

د یادونې ده چې په کندهار او هلمند ولایتونو کې د کجکي بند له برېښنا څه باندې ۹۷ زره کورنۍ ګټه اخلي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۵ |
| € | ۸۶,٦۰ |
| Rp. | ۵۰۱ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۱,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې لومړۍ | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۲مه | ۴۸۳یمه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۱۰ | ۱٤ | ۱٤ | ۱۱ | ۱۸ | ۱٦ |
| -۳ | ۱ | ۱ | ۱ | ۳ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲٦ | لمر ختل ۰٦:۵٦ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیگر ۰۲:۲۹ | ماښام ۰٤:٤۷ | ماخوستن ۰٦:۱۷

## نړۍ



## روحاني: جاپان دې د ایران او نړیوالو قدرتونو تر منځ د اټومي هوکړې په خوندیتوب کې مرسته وکړي

۲

## امریکا: د شمالي کوریا له لوري د هر ډول پاروونکي اقدام ځواب ته چمتووالی لرو



د امریکا د پوځ لوی درستیز جنرال مارک میلي ویلي، امریکایي ځواکونه د شمالي کوریا له لوري د هر گواښ ځواب ته پوره چمتووالی لري.
د فرانس پرېس خبري اژانس د خبر له مخې، میلي زیاته کړې چې شمالي کوریا هغه هېواد دی چې ډېری وخت د خپلو شومو موخو د پېلولو لپاره گواښونه کوي، خو په خبره یې، دغه هېواد د دوی تر څار لاندې دی او د هر ډول گواښ ځواب ته یې پوره چمتووالی لري. نوموړي دغه راز ویلي، دوی او ملگري هېوادونه یې د خپلو گټو دفاع ته تیار دي او د هر ډول گواښ د ځوابولو وړتیا لري.
میلي دغه څرگندوني وروسته له هغې کوي چې شمالي کوریا څه موده وړاندې امریکا ته خبرداری ورکړی و چې که دغه هېواد د تاوتریخوالي کمولو په برخه کې جدي اقدامات ونه کړي، دوی ورته د کریسمېس لپاره تر ټولو غوره ډالۍ لري. په ورته وخت کې د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر ویلي، امریکا هڅه کوي چې له دغه هېواد سره خبري اترې له سره پیل کړي.
بلخوا د شمالي کوریا د بهرنیو چارو وزارت د امریکا له لوري پر ځینو هېوادونو د بشري حقونو له امله لگول شویو بندیزونو ته په اشارې ویلي، امریکا به د خپلو کړنو درونډ پور پرې کړي. د شمالي کوریا د بهرنیو چارو وزارت د اعلامیې له مخې، د بشري حقونو سازمان د امریکا په لمسون شمالي کوریا د بشري حقونو پر ماتولو تورنه کړې او ټینگار یې کړی چې یاد هېواد باید بشري حقونو ته په درناوي په خپلو کړنو کې بدلون راولي.

## راپورونه: په هند کې د روانو لاریونونو پر مهال د وژل شویو کسانو شمېر ۱۷ تنو ته رسېدلی دی



د اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس د خبر له مخې، په هند کې د تابعیت د تازه تصویب شوي قانون پر ضد د روانو لاریونونو له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۱۷ تنو ته رسېدلی دی.
د راپور له مخې، د هند په شمالي سیمه کې د اعتراض کوونکو او پولیسو تر منځ د تازه تاوتریخوالي پر مهال دری کسان وژل شوي چې له دې سره په دې اعتراضونو کې د وژل شویو کسانو شمېر ۱۷ تنو ته رسېدلی او په زرگونو نور کسان د پولیسو له خوا نیول شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې دغه اعتراضونه شاوخوا یوه اونۍ وړاندې وروسته تر هغې پیل شول، چې د هند پارلمان د تابعیت په برخه کې ځینې نوي قوانین تصویب کړل. د دغو قوانینو له ډلې یو یې هم هغه قانون و چې د گاونډیو هېوادونو غیر مسلمان لړکي کولی شي په ډېرې اسانۍ په دغه هېواد کې پناه واخلي. دغې موضوع په هند کې د مسلمانانو پراخ غبرگونونه پارولي او د یاد قانون د لغوه کېدو غوښتنه کوي.
په ورته وخت کې د هند لومړي وزیر نریندرا مودي تېره ورځ د خپل هېواد د امنیتي وضعیت د څېړنې لپاره د وزیرانو د شورا غونډه رابللې وه.

## وکلا: امریکا باید جبران خسارۀ پرتاب «مادربمب ها» در اچین ننگرهار را بپردازد



برخی وکلا مدعی اند که پرتاب «مادربمب ها» از سوی امریکا در مومندرۀ اچین ننگرهار، باشنده گان این منطقه را دچار بیماری های گوناگون کرده و باید امریکا جبران خسارۀ این اقدام را بپردازد.
این در حالی است که وزارت دفاع امریکا در ۲۵ حمل سال ۱۳۹٦ اعلام کرد که بزرگترین بم غیراتومی خود را که به «مادربمب ها» مسمی است، علیه مواضع گروه داعش در مومند دره ولسوالی اچین ولایت ننگرهار استفاده کرده است.
نماینده گان مردم ننگرهار در ولسی جرگه می گویند که پرتاب این بمب، مشکلاتی را برای باشنده گان محل به بار آورده است.
ابرارالله مراد نماینده مردم ننگرهار در ولسی جرگه، در نشست دیروز این جرگه گفته است که برخی از باشنده های این منطقه، از اثر پرتاب بمب یادشده، به امراض گوناگون مبتلا شده و برخی نوزادان آنها معلول به دنیا می آیند.
او افزوده است: «زمین های زراعتی در این مناطق حاصل نمی دهد، اطفال با مریضی های جلدی رو به رو هستند، هر طفلی که به دنیا می آید، مشکل دارد و آب در این منطقه ملوث شده است».
به گفته او باید وزارت خارجه افغانستان، با سفارت امریکا صحبت کند تا برای باشنده گان محل جبران خساره پرداخت شود.
عبدالرؤف شپون نماینده دیگر مردم ننگرهار در این جرگه که به گفته خودش، هفته گذشته از ولسوالی اچین دیدن کرده است، نیز گفته است: «کانال آب باشنده گان اچین، در این رویداد با مواد کیمیاوی ملوث شده و اگر انسان و یا حیوان از آن آب استفاده کند، دیگر زنده نمی ماند».
وی خواهان توظیف هیئت برای بررسی وضعیت باشنده گان ولسوالی اچین شد و گفت که زنان و اطفال با امراض گوناگون مبتلا شده اند و امکانات تداوی برای آنان مهیا نیست.

## ژوند

## روغ وجود د ژوند په سالمه بڼه کې دی



۱- هره ورځ په کافي اندازه اوبه وڅښئ. اوب د انسان بدن ته ډېرې زیاتې گټې لري.
۲- سهارنۍ مه قضا کوئ، ښه او صحي خواړه په کې وخورئ. د ورځې په اوږدو کې هغه خواړه وخورئ چې ښه غذایي مواد لري، لکه رومیان، لیمو، منه، چارمغز، مکروني او نور ټول هغه خواړه چې په طبیعي ډول پکې ویټامینونه او معدني مواد موجود وي.
۳- ورزش کول د انسان د روغتیا ضمانت کوي. لږ تر لږه په اونۍ کې پنځه ورځې له ۲۰ تر ۳۰ دقیقو پورې تمرین او ورزش وکړئ. ورزش مو له ناروغیو ژغوري او د ناروغیو پر وړاندې مو د بدن مقاومت لوړوي.
۴- په کافي اندازه خوب وکړئ. له اتو تر نهو ساعتونو خوب د لویانو لپاره مهم دی. کله چې انسان ټوله ورځ فزیکي یا فکري فعالیت کوي، دماغ او د بدن نور غړي یې ستړي کېږي. د خوب پر مهال د انسان بدن بېرته خپله بایللې انرژي پیدا کوي او له منځه تللې حجرې بېرته جوړېږي.
۵- هغه خواړه وخورئ چې ډېر مو چاغ نه کړي، سبزۍ او تازه میوه وخورئ، تر څنگ یې له لبنیاتو لکه شیدو، کوچو او مستو او نورو غلو دانو څخه په خوړو کې گټه واخلئ.

## نوښت وکړئ او ځانگړي اوسئ



پرمختللي شرکتونه هغو ټکو ته پام کوي چې له نورو شرکتونو یې مخکې کوي. هغوی له خپلو سیالانو سره د سیالۍ پر لارو چارو پوهېږي او په بازارونو کې پر خپل نوم لوړولو دومره تمرکز کوي، څو ټوله نړۍ د دوی ځانگړتیاوې او غوره تولید وپېژني. تلساء (د موټرو د تولید یو شرکت دی) اوس اوس داسې یو موټر بازار ته وړاندې کړی، چې بیه یې سل زره ډالر ده. خورا گړندی دی، د بېټرۍ په واسطه کار کوي او هره بېټرۍ یې تر سلو زرو میلو لارې وهلو پورې دوام کوي؛ څومره په زړه پورې ده! نو د متفاوت اوسېدو جرئت ولرئ، په صنعت کې د داسې نوښتونو پنځوونکي اوسئ چې تر اوسه نه وي رامنځ ته شوي. نوښت وکړئ، غوره اوسئ او لویې هیلې ولرئ. هغه ټکي وپېژنئ چې تاسې له نورو ځانگړي کوي او د پرمختگ فرصت درته برابروي. که دا وړتیا ونه لرئ، بیا نو څه ډول له خپلو سیالانو سره سیالي کولای شئ؟ نوښت مو ژوند ښه کوي او د پرمختگ لامل مو کېږي. کولای شئ هماغه کار چې نور خلک یې هم کوي، په یوه نوې بڼه او داسې بڼه تر سره کړئ چې د خلکو پام در واړوي.